# په ملغلره ناول کښې د بېګانګي ذات نخښې

# The Symptoms of Alienation in Pearl Novel

Irshad khan*

**ABSTRACT:**

This paper is purposed to define alienation and to find out the elements of alienation in novel, *The Pearl*. Alienation is a sociological, psychological, political and economic theory. After Hegel and Feuerbach, Karl Marx has discussed it thoroughly and applied it to the proletariat class with best exhibition. The elements of this philosophy could best be seen in the novel, *The Pearl*. The said novel is the best example of Marxist ideology and hence the theory of alienation, a trait of Marxism.

**Keywords**: Marxism, Alienation, exploitation, production, class difference, inhuman conduct, the Pearl Novel

"انلائن ایتیمالوجي ډکشنري د لفظ "Alienation" د alienacioun نۀ ماخوذ ګڼي او د دې استعمال د پنځلسمې پېړۍ پېداوار ګڼي چې معنې يې د "estrangement" (شوکېدو، لرې کېدو، پرې کېدو، شړلو یا "Disownment" (انکار کولو، غاړه غړولو، ردولو او د ځان نۀ ګڼل کوي) او دغسې د شپاړسمې پېړۍ په پېل کښې د خپلو شتمنو یا حقونو بل ته انتقال ده□ دا لفظ لرغوني فرانسي "Alienacion" او د لاطیني "Alienationem" رېښه لري معنې يې انتقال، جدا کېدل او تسلیمېدل دي دغه لفظونه د "alienare" فاعلي حالت دے چې معنې يې د بل برخه کول، جدا کول یا نا اشنا کول، اتفاق نۀ کول دي□دا لفظ وړاندې د alienus یو شکل دے چې معنا يې بل چا یا ځاے سره اړیکې لرل دي او دغسې د alius شکل دے چې معنا يې "د بل"، "بل"، "بیل یا مختلف" ده□ دغسې د انګرېزۍ په وسطي دور کښې چې ۱۱۵۰ نه تر ۱۴۵۰ ګڼلے شي د دې معنې د ذهني صلاحیتونو

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar .

نه محروم کېدل یا لېوتتوب یا د لاطینۍ alienare په مناسبت د شعور نه بې برخې کول یا لېونے کول دي"[1]

بېګانګي چې Alienation ورته وائي یوه تولنیزه او نفسیاتي اصطلاح، ذهني حالت او کېفیت دے چې بیلابیلو تولنپوهانو، ارواپوهانو او سیاسي ماهرینو پرې خپل اظهار کړے دے په تولنیزه توګه بېګانګي دا ده چې یو کس د خپل چاپېرچل او خلقو نه یواځې شي او ځان ترې راونغاړي، خپل خپلوان او تولنه رد کړي دوي د فاصلې او نا اشنائې جزبات لري تر دې حده چې د خپلو جزباتو نه هم بېګانه وي دا یو پېچیده خو عام حالت دے چې په صحت هم اغېز پرېباسي د کار، خپلوانو او خاندان نه فاصله د دې علامات دي بې وسي محسوسول، دنیا بې معنې ګڼل، د خبرو اترو او هلو ځلو څخه لرې پاتې کېدل، په خبرو اترو کښې مشکلات، ځان غېر محفوظ ګڼل او قوانین نۀ منل

د کارل مارکس نه وړاندې جرمني فلسفي هیګل او بیا فیورباخ په بېګانګۍ باندې بحث کړے دے کارل مارکس د فېورباخ د بېګانګۍ د خیال په خپله فلسفه کښې تنقیدي توګه باندې تجزیه وکړه د فېورباخ مذهبي بېګانګي داسې اصطلاح ده چې ښائي مذهب څنګه د انسان د ځان پېژندنې په لار کښې خنډ جوړېږي مارکس هم دا دلیل وړاندې کوو چې مذهب د بېګانګۍ یو قسم یا شکل دے ځکه چې یو وګړے پکښې داسې قادر مطلق ذات تخلیق کړي چې په دوي قدرت لري داسې کولو سره وګړي د خپلو فېصلو کولو اختیار نه لاس په سر شي چې د دې بل مطلب دا دے چې دوي د خپل انسانیت یا بشریت نه منکر شي د فېورباخ په اند مذهب او خدا ے د انساني رسائي نه لرې شتون نۀ لري بلکې دا د انساني ذهن تخلیق دے حقیقي مذهب د انسان د خپل ځان سره رشته ده یا د خپل حقیقي فطرت سره د فېور باخ په خیال خدا ے د انسان داخلي فطرت دے چې ظهور یې کړے خو کله چې انسان په دې پوهېدو کښې ناکامه شي چې خدا ے او مذهب بل هیڅ نۀ دي بلکې د انسان تخلیق دے نو هغه د خپل اصلي فطرت نه بېګانه شي د خارجي خدا ے عبادت د انسان د جزباتو اظهار دے که خدا ے د انسان نه جدا څیز وګڼل شي، نو انسان د خپل حقیقي فطرت نه جدا شي او اخر دا چې بېګانه شي په نورو ټکو کښې که چرې انساني جوهر داسې وګڼل شي چې حقیقت کښې د خدا ے سره اړه لري ځوک چې د انساني رسائي نه لرې شتون لري، انسان د خپل ځان نه بېګانه شي وروستو کارل مارکس دا مذهبي بېګانګي د سرمایه

دارانه استحصالي عمل ذریعه ګڼي۔ په نورو ټکو کښې د مذهبي بېګانګۍ په وجه سرمایه دار خپل طبقاتي استحصال له دوام ورکوي۔

"The worker becomes all the poorer the more wealth he produces, the more his production increases in power and size. The worker becomes an ever cheaper commodity the more commodities he creates. The devaluation of the world of men is in direct proportion to the increasing value of the world of things. Labour produces not only commodities: it produces itself and the worker as a commodity—and this at the same rate at which it produces commodities in general. This fact expresses merely that the object which labour produces—labour's product—confronts it as something alien, as a power independent of the producer. The product of labour is labour which has been embodied in an object, which has become material: it is the objectification of labour. Labour's realization is its objectification. Under these economic conditions this realization of labour appears as loss of realization for the workers; objectification as loss of the object and bondage to it; appropriation as estrangement, as alienation"[2]

ژباړه: "کارګر چې څومره ډېر دولت پېدا کوي، دومره پسې لاغریب کېږي، څومره چې د هغهٔ پېداوار په قوت او مقدار کښې سېوا کېږي۔ کارګر چې څومره ډیر توکي پېدا کوي نو پخپله هم ترې یو ارزان توکے جوړېږي۔ د نړۍ د سړو بې ارزښته کېدل د نړۍ د شیانو د قیمتي کېدو یا ارزښتمند کېدو سره په راست تناسب کښې دے۔ محنت نهٔ صرف توکي پېدا کوي: دا خپل ځان او مزدور هم د توکي په توګه پېدا کوي او بالعموم په هغه شرحه په کوم چې توکي پېدا کوي۔ دا حقیقت فقط دا په ګوته کوي چې کوم څیز محنت پېدا کوي یعني د محنت پېداوار دا ورسره بېګانه په توګه مخامخ کېږي یو داسې قوت چې د پېدا کونکي نه ازاد وي۔ د محنت پېداوار محنت دے کوم چې د یو څیز یا توکي په شکل کښې مجسم شوے، کوم چې مادي کړے شوے۔ دا د محنت د مجسم کولو یا د یو څیز د شکل ورکولو عمل دے۔ محنت ته د عمل جامه ور اغوستنه د دې تجسیم دے۔ په دې معاشي حالاتو کښې محنت ته عملي جامه اغوستل مزدور د پاره نقصان برېښي؛ مجسم

کول یا توکي کښې بدلول یې د توکي کېدو زیان او د دې غلامېدل یا مړیې کېدل دي؛ اختصاص کول یې نا اشنا کېدل یا بېگانه کېدل دي "

د یوټیوب یو چېنل society opedia د لارې مونږ د عائشه ابراهیم په ساده ټکو کښې د بېگانګۍ دغه تعریف راخلو

"هغه عمل چې مزدور پکښې د خپل محنت د پېداوار نه پردے کړلے شي"
بېگانګي د ټولنیزې او نفسیاتي اصطلاح نه پرته یوه سیاسي او معاشي اصطلاح هم ده د کارل مارکس د دې تهیورۍ مطابق مزدور خپل جوړ
"The process whereby the worker is made to feel foreign to the product of his/her own labor".[3]

کړے پراډکټ نۀ شي استعمالولے، د خپلو جوړو کړو، تخلیق کړو یا پېدا کړو شیانو د اختتو وس دس نۀ لري یعني د سرمایه دارنه نظام په وجه پرولتاریه د خپل پېداوار او محنت نه بېگانه وي د کارل مارکس مطابق د دې دوه وجوهات دي چې Division of labour او Mechanization of labour دے د هغۀ مطابق کله چې مونږ کارونه په خلقو کښې اوویشو یا یې تقسیم کړو او هغوي دغه کارونه بار بار کوي نو د دې د تکرار نه تنګ شي او تخلیقي صلاحیت او مهارت یې ختم شي دغه رنګ چې کله صنعتي انقلاب راغے نو د لاسو کار مشینونو باندې کېدل شروع شو یعني کار مشینرۍ ته وسپارل شو د دې ځاے نه استحصال شروع شو چې کوم کار به لس شلو کسانو کولو هغه کار مشین کوي او یو کس ورته ولاړ وي او داسې ښکاري چې مزدور هم د مشینرۍ یوه پرزه ده سرمایه دارانه طرز پېداوار کښې مزدور بېگانه کېږي عائشه ابراهیم د بېگانګۍ څلور قسمونه ښائي چې دا دي

۱ د پېداوار د عمل نه بېگانه کېدل چې مزور ته کوم کار ښودل شي هم هغه رنګ کوي او احکامات یا د مالک نه اخلي یا د مشینرۍ په رحم و کرم وي ۲ د پېداوار نه بېگانه کېدل چې هغه پۀ خپلو پېدا کړو شیانو هیڅ اختیار نۀ لري، استعمالولے یې نۀ شي او تصور یې هم نۀ شي کولے، ۳ د نورو مزدورانو نه بېگانه کېدل چې د مزدور داسې یو معمول د سحر نه ماښام پورې جوړ شي چې د بل مزدور د حال نه هم نۀ خبرېږي او ۴ د خپل ځان نه بېگانګي یې ډېر خطرناک شکل دے چې د مزدور پکښې خپله هیڅ مرضي پاتې نه شي که د مزدور

چهتی ته زړهٔ وشي، مړے ژوندے کول غواړي يا ارام کول غواړي نو د دې ګنجائش پکښې نهٔ وي

"دنیا کارل مارکس کے سماجی تبدیلی کے جدلیاتی فلسفہ کو فکر انسانی میں سب سے اہم سمجھتی ہے۔ مارکس سے پہلے متعدد فلاسفیوں نے سماجی تبدیلی کے تصورات پیش کئے لیکن مارکس نے سرمایہ اور سرمایہ دار کے ہاتھوں انسانی محنت اور مزدور کے حق میں بیگانگی alienation سے پیدا ہونے والے احساس بیگانگی کو غیر مذہبی بنیاد پر جس انداز سے غور کیا وہ مذہبی مفکرین سے قطعی مختلف تھا۔ مارکس مذہبی فکر کا بہت اہم تجزیہ نگار تھا اور اس حیرت انگیز نتیجہ پر پہنچا کہ مذہب بالخصوص عیسائیت، مزدور اور اس کی محنت کے درمیان احساس بیگانگی تسلیم ضرور کرتی ہے لیکن وہ فرد کو بااختیار بنانے کے خلاف ہے اور سمجھتی ہے کہ یہ سب کچھ مشیت خداوندی کا تقاضہ ہے جس سے نبرد آزما نہیں ہو سکتا"[4]

ژباړه: "نړۍ د کارل مارکس د ټولنيزې تبديلۍ فلسفه د انساني فکر په لړ کښې تر ټولو مهمه ورکړه ګڼي. مارکس نه وړاندې ګڼو فلسفيانو د ټولنيز بدلون تصورات وړاندې کړي خو مارکس د سرمايې او سرمايه په لاسو د انساني محنت او د مزدورانو په حق کښې بېګانګۍ نه زېږېدونکي احساس بېګانګي باندې چې په کوم انداز په غېر مذهبي بنيادونو غور وکړو هغه د مذهبي مفکرينو نه مکمل اپوټه وهٔ. مارکس د مذهبي فکر غټ تجزيه نګار وهٔ او په دې عجيبه نتيجه ورسېدو چې مذهب او په خصوصي توګه باندې عيسائيت د مزدور او د هغهٔ د محنت تر مينځه احساس بېګانګي خامخا مني خو د فرد د خپلواکه کېدو مخالف دے او ګڼي چې دا هر څه د خدا ے د لوري دي او د دې مقابله نهٔ شي کېدلے"

بېګانګي د سرمايه داره نظام منطقي نتيجه ده يو خو دا چې سرمايه داره نظام د مقابلې، استحصال، کرپشن، خصوصيات لري او بل دا چې مزدور پکښې د خپل محنت نه نا اشنا وي اېلن ووډ او ټيټ ګرانټ وائي

ان کے لئے بھی جو خوش قسمتی سے برسر روزگار ہیں دس میں سے نو بار کام بے معنی مشقت کے سوا کچھ نہیں ہوتا۔ محنت کے اوقات کو مزدور اپنی زندگی کا حصہ خیال نہیں کرتا۔ بحیثیت انسان آپ کا ان سے کوئی تعلق

نہیں۔آپ کی محنت سے بننے والی پیداوار کسی اور کی ہے جس کے لئے آپ محض ایک عامل ہیں۔جس لمحے آپ فیکٹری یا دفتر سے باہر آتے ہیں تو زندگی کا آغاز ہوتا ہے اور دوبارہ داخل ہوتے ہی وہ ختم ہو جاتی ہے۔"[5]

"د هغه د چا د پاره هم چې د ښځ مرغه په روزګار دي په لسو کښې نهه ځل کار د بې معنې خوارۍ نه علاوه هيڅ هم نۀ وي□ د محنت وختونه مزدور د خپل ژوند برخه نۀ ګڼي□ د انسان په صفت ستا د هغې سره هيڅ تعلق نشته□ ستا په محنت او خوارۍ پېدا شوے پېداوار د بل دے او ته پکښې فقط پېدا کونکے يې□ کوم مهال چې تۀ د فېکټرۍ يا دفتر نه بهر را اوځې نو ستا د ژوند اغاز وشي او په بيا داخلېدو واپس ختم شي"

ايلن ووډ او ټيډ ګرانټ د محنت ترکيبي توکي دوه قسمه بيانوي چې يو پکښې خارجي دے□ چې محنت د مزدور د پاره خارجي شي نو تعلق يې د هغۀ د پېدائشي فطرت سره نۀ وي او هغه پکښې د خپل ذات اثبات نۀ کوي بلکې نفي کوي او خفګان پکښې محسوسوي□ د هغۀ ذهني او جسماني قوت په ازاده توګه باندې وده نۀ مومي بلکې خپل بدن ويلي کوي او ذهن بربادوي نو کله چې مزدور د کار نه لرې وي نو خوښ وي او د کار په وخت کښې ځان د خپل ذات نه جدا ګڼي او د بې کارۍ وخت يې د سکون وخت وي□ د دۀ محنت په خوښه نۀ دے بلکې جبري دے، دا جبري مشقت دے او د هغه اړتياو د تسکين ذريعه ده چې د هغۀ نه جدا وي□ د د ۀ بېګانه کردار د دې حقيقت نه څرګندېږي چې کله جسماني يا نورې مجبورۍ نۀ وي نو د محنت نه د بيمارۍ په شان مخ اړوي□ دوي مخکښې وائي

خارجی محنت وہ محنت جس میں انسان خود کو بیگانہ کر لیتا ہے، ایثار ذات اور نفس کشی والی محنت ہے۔آخر میں مزدور کے لئے محنت کے خارجی کردار کا اظہار اس حقیقت سے ہوتا ہے کہ وہ اسکی اپنی نہیں ہے بلکہ کسی اور کی ہے، کہ وہ اسکی ملکہ یت نہیں، کہ اس میں وہ اپنا نہیں بلکہ کسی اور کا ہوتا ہے۔جس طرح مذہب میں انسانی تصور اور دل و دماغ کی برجستہ سرگرمی انسان پر اس سے جداگانہ عمل کرتی ہے۔۔۔۔یعـ نی ایک اجنبی، مقدس یا سـ شیطانی سرگرمی کے طور پر عمل کرتی ہے۔۔۔۔اسی طرح مزدور کی سرگرمی اس کی برجستہ سرگرمی نہیں ہے۔یہ کسی اور کی ہے، یہ اسکی ذات کی تباہی ہے"[6]

ژباړه:"خارجي محنت هغه وي چې انسان پکښې ځان بېګانه کړي، چې د ذات د قربانۍ او نفس وژنې محنت دے□ اخره کښې مزدور د پاره د محنت د خارجي کردار اظهار د دې حقيقت نه کېږي چې دغه يې خپل نۀ وي بلکې د

بل چا وي، دا د دهٔ ملکيت نهٔ وي ځکه چې دا پکښې خپل نهٔ وي بلکې د بل چا وي ځنګه چې په مذهب کښې انساني تصور او د زړهٔ يا دماغو برجسته سرګرمي په انسان د هغهٔ نه جدا عمل کوي يعني د يو نا شنا، مقدس يا شېطاني سرګرمۍ په توګه عمل کوي دغسې د مزدور سرګرمي د هغهٔ برجسته سرګرمي نهٔ وي دا د بل چا وي د هغهٔ د ذات نهٔ وي"

Barbara Albrecht McDaniel په خپله مقاله کښې د بېګانګۍ درې وجې ښائي چې د کاميابۍ تلاش، د کميونيکېشن نشتوالے، او د انسان بنيادي فطرت دے د ملغلره ناول په کردارونو کښې د بېګانګۍ سبب جوړېدونکي محرکات څهٔ وو تنهائي يا يواځيتوب د بېګانګۍ په نتيجه کښې وي شايد د سټينبک په ذهن کښې د همدردۍ واحد غوره جزبه د رحم، خواخوږۍ وي چې بې کوره، وږو، لالهانده او خوشې او ناروغه خلقوسره وي مېکډينئيل وائي

“Lisca saw Cannery Row and The Pearl as rejections ofsociety. Cannery Row, like Tortilla Flat, favorably represents a retreat from competition, whereas The Pearl teacheswhat their characters already know: that to conflict withsociety is to pay too great a price for keeping the pearl”[7]

ژباړه: "لسکا کېنري رو او ملغلره د ټولنې د رټل شوو په توګه وليدل کېنري رو لکه د ټارټيله فليټ په ښه توګه د زغل نه په شا کېدنه وړاندې کوي، او په بل طرف ملغلره دا رابنائي چې د دې کردارونه د وړاندې نه پوهېږي، يعنې د ټولنې سره سر اړمول او ملغلره ساتل په لويه بيه کېږي"

د سټينبک ناول "ملغلره" د مارکسي فلسفې يوه غوره بېلګه ده د مارکسزم د يو شمېر اړخونو سره چې کارل مارکس پرې خپل تنقيدي نظر وړاندې کړے دے "فلسفه بېګانګي" هم داسې اړخ دے چې په دې ناول کښې يې مظاهره کېدے شي کينو او د هغهٔ طبقه او دغسې ډاکټر، د ملغلرو سوداګر او ملا داسې کردارونه دي چې د مزدور او سرمايه دارې طبقې علامتونه دي د محنت استحصال، د مزدور استحصال، د مزدور د خپل محنت نه بې برخې کول، د انسان د انسان نه فاصله، په محنت قبضه، د انسان وژنه، د انسان د انسان نه نفرت، د يوې طبقې د خلقو د يو بل نه نهٔ خبرېدل وغېره ټول د بېګانګي ذات مثالونه دي

د سټینبک په ټولو اثارو کښې ملغلره داسې اثر دے چې کور، خاندان،امنیت او حفاظت پکښې دومره مقدس او ارزښتناک وي یا پکښې مغلوب او کمزوري خلقو له پکښې اوچت مقام ورکړے شوے وي۔ مونږ لیدے شو چې مالدار او د مهمو چوکو خلق پېژندلي بد ماشان او غنډه ګر وي۔ مونږ ګورو چې کله د ملغلرې یو کردار ډاکټر چې سرمایه داره طبقه وړاندې کوي خبر شي چې د یو عام کلیوال او غریب کینو زوي لړم چیچلے او د هغۀ درملنې ته اړتیا لري نو ډاکټر داسې ځواب ورکوي

"زۀ بل کوم ښۀ کار نۀ لرم چې وۀ یې کړم تر دې چې د حشراتو چیچل هغه هم د هندي کوچنیانو چې معالجه یې کړم۔ زۀ ډاکټر یم د ځناورو ډاکټر ډاکټر او بې کار نۀ یم۔"[8]

او هم په دغه عکس العمل کښې کینو د ملغلرې موندلو خواهش او کوشش کوي۔ د مالدار او غریب تر مینځه توپیر نور هم جوت شي او د هغۀ ګاونډیان هیله ولري چې ناځاپي مالداري به کینو مغروره نۀ کړي، د مالدارو خلقو خوي به نۀ کوي او لالچ، نفرت او د بې مروتۍ نخښې به پکښې نۀ ښکاره کېږي۔ دغه رنګ پخپله دفاع کښې کینو هغه سړے هم اووژني چې ملغلرې ترې قبضه کول غواړي۔ جونا د لیکوال د خوښې ښځه ده ځکه چې هغه د کینو ملاتړ په ځان مني۔ کینو د ملغلرې په ذریعه راتلونکي شیان چې هغۀ ډېر ارزښت ورکولو خو ولې د خپل خاندان خوشحالي هغۀ په یو قیمت هم نۀ ورکوله۔ د دې دواړو یو ځاے ساتنه ممکنه نۀ وه نو ځکه یې ملغلره سمندر ته ګزار کړه۔

په ملغلره ناول کښې یو زور طبقاتي لاندے باندے د کینو د مالداره کېدو په وجه هم مینځ ته راشي او دغه رنګ د کینو دولت په نتیجه کښې مونږ یوه بېګانګي او المیه وینو۔ د دې نه تقریباً څلور سوه کاله وړاندې د سپین خلقو د کینو قام غلام کړے وۀ چې د مېکسیکو ځائي خلق وو او دغه رنګ د سپین اولاد یا نسل اوس هم ځائي خلقو نه نفرت کوي او ظلم جبر پرې کوي۔ کینو د خپل لوېدلي قام نه ځانګړے دے ځکه چې هغه دغه ظلم منلو ته تیار نۀ دے او څه غوره کول غواړي۔ د کینو وړوکے بچے چې لړم چیچلے دے او کینو ښۀ زړو د ډاکټر مرسته غواړي

"کینو سر ټیټے دروازې ته ور تېر شو او د پخوا په شان به چې د دې قام کوم سړي ته نږدې کېدو، کینو به ځان کمزورے، ډارېدونکے، وارخطا او غمژن لیدو۔ اوس یې هم د ډاکټر د دروازې په مخ کښې هم دا حال درلودو۔ قهر

او ډار يې په وجود کښې راپېدا شول، کينو ته د ډاکټر وژل اسان کار وۀ خو د هغۀ سره خبرې ورته ډېرې مشکلې ښکارېدې، دا ځکه چې د ډاکټر قام تل د کينو د نژاد سره داسې خبرې کولې تا بـه فکر کـاوۀ چې د کـوم سـاده ژوي او ځناور سره مخامخ دے".[9]

کله چې کينو رد کړے شو نو د خلقو ټوله ډله چې دۀ سره يې ملګرتيا کړې وه د ځان سره وشرمېدو. کينو د غصې نه سور وۀ. اوس هغۀ د ملغلرې د موندلو د پاره سمندر کښې غوپې وهلې په دې خاطر چې د علاج پېسې ولري او دغسې حيرانونکې ملغلره په لاس ورځي.

"کينو د قهر او کينې ځاے ويرې او ډار ته پرېښود. دے نۀ پوهېدو ښائي ډاکټر په رښتيا وائي. او دۀ دا نۀ غوښتۀ چې خپله څرګندونه ناپوهي د ډاکټر د پوهې په مقابل کښې کېږدي. دے د نورو خپلو خلقو په شان په لومه کښې ګېر شوے وۀ، او دوي به د دۀ د وينا سره سم تر هغو پورې په دې لومه کښې ګېر وي تر څو چې دوي وپوهېږي چې رښتيا دغه شيان په کتابونو کښې راغلي دي که نه."[10]

د دوي کلے د دې طور طريقو سره بلد دے او تر دې پورې چې ملا يې هم عادي حالت له دوام ورکول غواړي او هر کال بزګرانو له يوه خطبه ورکوي او ځان د دوي په حافظه کښې ساتي. چې کله پادري د ملغلرې نۀ خبر شو نو د کينو کور ته راغے

"کينو ستا نوم د يو لوي سړي په نوم دے هغه د کليسا لوي کشيش دے. دۀ خپلې وينا ته په داسې لهجه دوام ورکړو لکه دعا چې لولي"ستا هم نامي صحرا ودانه او اباده کړه، د خلقو فکرونه يې خوارۀ کړۀ، ايا ته په دې نۀ پوهېږې، دا ټول په کتاب کښې راغلي دي".[11]

د کينو خوش بختي په بد بختئ بدله شوه د کلي ارام او سکون لۀ مينځه لاړے او د کلي خلق د حسد د اور په وجه بېګانه شول. د کينو دښمنان پېدا شول چې د حسد لۀ وجې يې نقصان يې ورکول غوښتل. دغه رنګ د ښځې جانا سره يې هم بېګانګي پېدا شي چې کله هغې ملغلره غورځول او غوښتل ځکه چې دې ملغلرې دوي له ډېر نقصان ورکړو او په بدل کښې کېنو خپله ښځه اوهله او د هر سړي دښمن شي. دغه رنګ مونږ وينو چې د کاميابئ لټون د کينو سکون، تحفظ، مينه او خوشحالي لۀ مينځه يوړل. خو اوس کينو ځان د هرې نتيجې د

پاري تيار کړو او دا ملغلره د هغۀ ژوند ګرځېدلے وۀ۔ هغۀ دا هوډ کړے وۀ چې د هغه کوهي نه به را اوځي چې دوي پکښې د مودو نه موجود دي۔ کله چې کينو د ملغلرو اخستونکو بيه رد کړه او ويرېدلے هم وۀ خو خپله ملغلره يې سر ښار ته وړل اوغوښتل۔ کينو ته ورور اوئيل چې تا نۀ صرف د ملغلرو د سوداګرو د حکم نه سرغړونه کړې ده بلکې د ژوند د ټول ساخت نه دې سر اړولے۔ د کينو ملګري به تر هغه وخته هغۀ سره ملګرتيا کوي چې خطره نۀ وي او دا چې کينو په نا اشنا او خطرناکو لارو مزل شروع کړے۔ د دې نه پس کينو سړے اووژني، او خاندان يې د تېښتې رو ګودر ګوري ځکه چې د نيولو خطره يې ده۔ تعاقب کونکي يې ماشوم زوي اوژني او دا د خپلې ښځې سره واپس علاقې ته راشي او دغسې سمندر ته واپس هغه ملغلره اوغورځوي چې د بېګانګۍ سبب ګرځېدلې۔

لکه څنګه چې کارل مارکس وائي چې مزدور ته فقط اجرت ورکول کېږي او هغه د خپل تخليق نه نا خبره وي يا د خپلې مزدورۍ نه ناخبره وي نو دغه مظاهره مونږ په ملغلره ناول کښې هم کولے شو۔ کينو چې کله خپله ملغلره د خرڅ د پاره يوړه او ملغلره اخستونکي د کينو د ملغلرې نه د وړاندې نه خبر وو او د دې په ارزان قيمت اخستو کوشش يې کولو۔ مونږ وينو چې د ملغلرې اخستونکو د دليلونو وړاندې د کينو د قبيلې خلق په دغه لږ قيمت هم رضا وو او غوښتل يې کينو د دغه ملغلره د صدف اخستونکو د خوښې په قيمت ورکړي۔ کله چې د کينو په ملغلره صدف اخستونکو خپل قيمتونه لګول او کينو دغې ته تيار نۀ وۀ نو د کينو ګاونډيان د دې د قيمت نه نا خبره وۀ۔

> "د کينو د ګاونډيانو په مينځ کښې ګنګوسے شو۔ دوي د دې ورکړې او راکړې د ځينو شيانو څخه ډارېدلي وو۔ ملغلره غټه وه، عجيب رنګ يې درلود، دوي لۀ اوله څخه ورباندې شکمن وو، خو سره لۀ دې هم يو زر پزو د غورځولو وړ پېسې نۀ وې۔ تقريباً دا پېسې د يوۀ غريب او بې وزله سړي د پاره بدې پېسې نۀ وې، او دا يو زر پزو د کينو غوندې سړي د پاره چې پرون يې يوه پېسه هم نۀ درلوده ښه شتمني وه"[12]

بره پېراګراف مونږ ته د کينو د برادرۍ د خلقو نفسيات په ګوته کوي۔ مونږ داسې وئيلے شو لکه مزدوران دا اوائي چې مالک يا کارخانه دارچې مونږ له کومه دياړي راکوي نو دا هم پوره دي او دا د مزدور بېګانګي ده۔

دغه رنګ چې کله کينو ملغلره د کمې بيعې په وجه خرڅه نۀ کړه نو ماښام د هغۀ د برادرۍ خلقو په دې خپل فکرونه زغلول او دا يې د کينو غلطي بلله

"دوي نۀ پوهېدل چې دا به يوه ښه ملغلره وي که نه؟، خو په خپل عمر يې دومره لويه ملغلره نۀ وه ليدلې دا هم معلومه وه چې د ملغلرو اخستونکي تر دوي په ملغلره او د هغې په بيعه ښۀ پوهېدل"[13]

"نۀ پوهېدل" د بېګانګۍ عمل دے چې مزدور ورسره مخ دے دا هغه نۀ پوهېدل دي چې پادري کله کينو ته اوائي چې ستا نامه د يو لوي سړي په نوم ده چې صحراګاني يې ابادې کړې وې، ايا تا ته د دې پته ده ، دا په کتابونو کښې راغلي دي او بيا کينو خپل زوي کوائټيتو ته ګوري چې دا به سبق وائي کتابونه به لولي او مونږ به د هر څۀ نه خبروي دا هغه لاعلمي او بې خبري ده چې ډاکټر د کينو د زوي سترګې ګوري او کينو ته وائي چې سترګو کښې يې شين والے دے او زهر به ډېر ژر اثر وکړي او دغسې د کينو روغ زوي په ناروغۍ بدلوي او دغه رنګ مونږ وينو چې صدف خرڅونکي د صدف اخستونکو په بيعه او پوهه باور لري دغه رنګ مونږ مخکښې وينو

څينو دليل راوړو "ښه دا وه چې کينو دا يو نيم زر پزو اخستے وے، دا ډېرې پېسې دي، دومره پېسې دي چې دۀ پخپل عمر کښې نۀ دي ليدلي، يا ښائي چې کينو د لېوني غوندې په خپل سر کار وکړي که دا ومنو چې دے پايتخت ته لاړ شي او که بيا هلته د ملغلرې د پاره اخستونکي پېدا نۀ کړي، هلته پاته کېدے نۀ شي کاروبار به يې څنګه شي؟"[14]

په ملغلره ناول کښې د دولت حرص نۀ صرف کينو چې د ناول هيرو دے د بېګانګۍ ښکار کړي بلکې د ناول يو بل کردار چې ډاکټر دے د هغۀ د نور دولت لالچ د هغۀ نه انساني خويونه واخلي د انساني اقدارو او رويې نه لاس په سر کېدل د بېګانګۍ نخښې دي چې مونږ يې دې ناول کښې وينو دا مونږ ته د کارل مارکس هغه خبره رايادوي چې سرمايه خپل ځان په هر قيمت وسيع کول غواړي د سرمايې د دې وسيع کولو او فراخه کولو فطرت انسانان د انسانيت د معياره غورځولي دي کينو چې د دولت فکر واخستو نو د کلي او برادرۍ نه بهر شو چې ليکوال ورته larger organism وائي او کينو اوس د دې برخه نۀ وه د دې په نتيجه کښې کينو دښمن ته راپرزېدل ډېر اسان شو ځکه چې هغۀ سره اوس اجتماعي ملګرتيا او تحفظ پاتې نۀ شو

دغه رنګ کله چې د کینو بچے لړم وچیچي نو ښار ته د ډاکټر د پاره لاړ شي۔ د ډاکټر د علاج نه انکار او د کینو قام ته ځناور وئیل خو پخپله یوي الميه ده خو د دغې نه وړاندې د ډاکټر نوکر چې د کینو د قام وۀ د کینو سره د ملاقات او خبرو نه انکار وکړو۔

"هغه سړے چې د دروازې لۀ چولي څخه یې کینو ته کتل، د دۀ لۀ قوم څخه وۀ۔ کینو د هغۀ سره په مورنۍ او زړه ژبه کښې خبرې وکړې۔ "کوچنے لومړنے نوے مې لړم چیچلے دے"۔ لینو دا هم اوئیل "هغه د ډاکټر مهارت او دوا په کار لري"۔ دروازه بیرته وتړل شوه۔ مزدور په مورنۍ ژبه لۀ خبرو څخه ډډه وکړه او وې وئیل، "یوه شېبه ودرېږه، زه ځم چې پوښتنه وکړم"[15]

د کنینو د خپلې قبیلې د سړي په خپله مورنۍ ژبه کښې د خبرو نه انکار او هغۀ سره داسې چلند کول لکه د ډاکټر او یا نا شنا سړي، هم د بېګانګۍ نخښې دي چې مونږ یې دې ناول کښې وینو۔

مختصر دا چې ملغلره ناول د بېګانګۍ غوره بېلګه ده۔ د کینو د دولت لالچ او د هغې په نتیجه کښې ملغلره موندل چې د هګۀ ښځه ورته "بدي" وائي، د کینو د قبیلې د سړي چې د ډاکټر مزدور دے د کینو سره په مورنۍ ژبه کښې نۀ غږېدل، د ډاکټر د ماشوم د علاج نه انکار کول او هغوي ته ځناور وئیل، د ډاکټر په دومري شته منۍ کښې بې قراري او د نورو پېسو او عیاشۍ خواهش، د کینو د خپلې برادرۍ او قام نه بیلېدل، د کینو په لاس قتل، د کینو د ماشوم زوي قتلېدل، د صدف اخستونکو دهوکه او فرېب چې ملغلره په کم نه کم قیمت واخلي، د صدف خرڅونکو د ملغلرې قیمت کم لګول او د کینو سره مرسته او هم غږي کېدل نۀ، ټول د بېګانګۍ په زمره کښې راځي

# حوالي


1 https://www.etymonline.com/

2 Marx,Karl,Economic and Philosophical manuscripts, progress publishers Moscow, 1959,p67

3 https://youtu.be/BkIgRJV9YGs

4 Afanaseef,W,Marksi Falsafa,Mehmood Brothers Printers,2020,p105

5 wood,Allen;Grant,teet,Marksi Falsafa aor jadeed science,mehmood Shah printers,Lahore,2018,p613

6 Ibid,p614

7 Albrecht mcdaniel,Barbra,alienation and reconciliation in the novels of Jhon Steinbeck,1964,p13

8 Muhammad Nabi,Engineer,mlaghalara,pa sareeza Muhammad Aslam Qurbankhel,Pukhto Tolana,Kabul,1357,p14

9 Ibid,p11

10 Ibid,p40

11 Ibid,p36

12 Ibid,p67

13 Ibid,p70

14 Ibid,p71

15 Ibid,p12